رسول الله صلى الله عليه وسلم په فيصله کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخيستونکي لعنت ويلى دى

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په فيصله کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخيستونکي لعنت ويلى دى.

[صحيح دى] [الترمذي او احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم رشوت ورکوونکي، رشوت اخيستونکي او رشوت قبض کوونکي ته د الله له رحمت څخه په لرې کېدلو او شړلو سره ښېرا کړې ده. لدې څخه هغه رشوت هم دى چې قاضيانو ته ورکول کيږي تر څو په ظلم سره پريکړه وکړي او له لارې يې رشوت ورکوونکى خپل مراد ته په ناحقه ورسيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/64689